# د ملی پیوستون پروگرام
## بریالی کیسه

### پراختیایي شورا ګاني ډيري ستونزي له منځه وړي

دقنات وکيل کلي چي دهرات ولايت د کيش رباط ولسوالي په شمال ختيځ کي پروت دي او په نوموړي کلي کي (۲۹۰) کورني ژوند کوي ددغو کليو زيات شمير اوسيدونکي د تيرو کلونو د سختو وچکاليو له امله زيانمني شويدي ډير بيوزلي خلک دي چي په ښاړو ځمکو کي دکرکلي له لاري دخپلو کورنيو ساتنه او پالنه کوي سره له دي چي په نوموړي سيمه کي دڅښلو او لګولو لپاره پوره اوبه موجودي ندي او يو شمير کورنيو دا پريکړه وکړه تر څو کلي پريږدي .

له نيکه مرغه تردي وروسته چي ملي پيوستون پروګرام پدغه کلي کي په کار پيل وکړ ،په لومړي قدم کي يوه پراختيايي شورا منځ ته راوړه ، او دڅاه ګانو دکيندلو لپاره لومړيتوب په نظر کي ونيول شو ، دملي پيوستون پروګرام دهمکاري موسسي (DACCAR ) له لاري وکولي شو تر څو دغه پروژه د(۱۵۷٦۰۰۰) افغانيو په لګښت چي د(۳۱۵۲۰) ډالرو معادل او په سلو کي يوولس دکلي دخلکو په ونډي اخيستو سره بشپړه شوه په لومړيو وختو کي کيندل شيو څاګانو سمي اوبه نه درلودي ، کيندونکي خواوي پدي کار تينګار کړي چي دڅه مودي وروسته دڅاه اوبه پاکي او داستفادي وړ وګرځي ، دپراختيايي پروژو غړو ددي خبري سره موافقه ونه کړه او مقابل لوري يي دي ته مجبور کړ تر څو زيات کار وکړي چي اوبه پاکي او داستفادي وړ وګرځئ .

سيد علم د کلي يو تن بزګر داسي وايي : هغه ساري ناروغي چي زمونږ په کلي کي موجودي وي اوس ډيري کمي شوي دي انشا الله دسږ کال دوبي له تيرکال نه توپير لري او زمونږ کوچنيا ن به په ساري ناروغيو باندي لږ اخته شي او تر هغه نه مهمه دا چي دپراختيايي شورا غړي هره اووني خپلي غونډي جوړوي او په کلي کي په مهمو مسايلو باندي خبري کوي ،سر بيره پردي دضرورت وړ اوبو برابرول ، او ځيني نور دوامداره لانجي او ستونزي دميراثي ځمکو دويشلو په سر له منځه تللي دي . او يوه رښتيني شورا په کلي کي موجوده ده .





د ملي پيوستون پروګرام دسيمه ايزوپراختيايي پروژو د ځانګړي پلان جوړولو ،اداري او څارني او دافغاني ټولني د ځواکمن کيدو لپاره دافغانستان ددولت له خوا تاسيس اوپيل شويدي . د ملي پيوستون پروګرام چي نوي پراختيايي لاره يي منځته راوړه ، کلي دي ته چمتو کوي چي دخپلو اړوندو چارو په هکله تصميم ونيسي او دپروژي د کار په ټولو پړاوونو کي خپلي چاري تنظيم او اداره کړي دغه پروګرام داسي بنسټونه جوړوي چي دکليو دسيمه ايزحاکميت دوام ، د کليو بيارغونه او دبيوزلي راتيټول پکي شامل دي .

د ملي پيوستون پروګرام په اړه دلا زياتو معلوماتولپاره دغي انټرنټي پټي سره اړيکي ټينګي کړي .
www.nspafghanistan.org يا ايميل info@nspafghanistan.org